هاری ۲۰۰۹/۱۰/۲

# د ښاغلي هو استعفا ليک

په امريکايي مطبوعاتو کې د بهرنيو چارو د ۳۶ کلن مامور ښاغلي ماتيو هو اعتراضي استعفا خورا گرمه موضوع ده. ماتيو هو په عراق او افغانستان کې په پوځي او ملکي برخو کې کار کړيدی. هغه په زابل کې مشر امريکايي ملکي مامور وو. هو لمړی امريکايي مامور دی چې د افغانستان دجنگ پرسر د اعتراض په توگه استعفا کوي.

ښاغلي هو د (سي ان ان) تيليويزون ته وويل، « گومان کوم هغه خلک چې زموږ سره هلته [په افغانستان کې] جنگيږي، هغوی يوازې زموږ د اشغال مخالف دي، نه داچې زموږ سره کوم عقيدتي اختلاف لري، يا دا چې د القاعدې سره تړاو لري، او يا دا چې د غرب سره نه پخلاکيدونکي کرکه او دښمني لري. د هغوی لپاره د جنگ يوازنی دليل دا دی چې موږ د هغوی خاوره او ملک اشغال کړی دی.»

هغه پخپل څلور پاڼوخط کې ليکي ول، « ما په افغانستان کې د متحده ايالاتو د ستراتيژيکی شتون او مقصد په اړه اعتمادله لاسه ورکړ. زه له ډېره وخته د خپلي اوسنی ستراتيژي او په راتلونکي کې د خپلو پلانونو په ارتباط شکمن سوی وم.» هغه وايي په جلال اباد کې وم چې دجنگ په اړه شک او تردد را پيدا سو. په کلات کې وم چې په واشنگټن کې د اوباما حکومت قدرت تر لاسه کړ. هغه زياتوي: «فکر مي کاوه چې نوې اداري ته بايد څه وخت ورکړه سي، ښايي بدلون راسي.» خو باالاخره ماتيو هو وروسته له څه انتظاره خپله استعفا وړاندي کړه. هو په افغانستان کې وو چې د هغه هېواد د تاريخ، سياست، او مقاومتونو په باب يې مطالعه پيل کړه. هغه د افغان پر لرغوني تاريخ، د شوروي اشغال، د مجاهدينو دوران، طالبان، او د امريکا پر اته کلني مداخلي غور او مطالعه کوي.

ماتيو هو باالاخره دې نتيجې ته ورسېد چې زياتره افغانان د متحده ايالاتو سره ځکه جنگيږي چې د هغوی په کليو او سيمو کې امريکايي عسکر دي. هغه وايي افغان يو داسي ولس دی چې بهرني عسکر يې پخپل کلی او کور کې نه خوښيږي. هغه وايي، « په کليوالي سيمو کې د امريکا په ملاتړ د کابل فاسد حکومت رد او رټل سوی دی. مگر افغانان طالبان هم نه خوښوي.»

د اگست قلابي انتخاباتو د هو شک او مخالفت لا زيات کړ. هغه په خپل ليک کې د افغانستان د ښاري او کليوالي سيمو تر مينځ کلتوري او فرهنگي تضاد او کشمکش ته اشاره کوي. هغه ليکي، « دې جنگ د ښاري خلکوچي زياتره يې څه باسواده، سيکولر، او عصري دي او هغو کليوالي خلکو تر مينځ چې اکثره يې بې سواده، مذهبي، او عنعنوي دي تاوتريخوالی لا زيات کړی دی. د هو په گومان د افغان ښورښ اصلي محرک دا دی چې پښتانه فکر کوي چې له پېريو پېريو راهيسي يې پر ضد يو لړ دسيسي رواني دي، او د هغوی کلتور، خاوره،او مذهب د بهرني او کورني دښمنانو له دايمي تهديد سره مخامخ دي. په پښتني کليو، باندو، او درو کې د متحده ايالاتو، ناټو، او افغاني پوځ او پوليسو شتون چې اکثره يې غير پښتانه دي، موجوده ښورښ ته د خارجي قوې په مقابل کې د بومي مقاومت رنگ او حساسيت ورکوي.»

د ښاغلي هو استعفا ليک د اوباما په اداره کې سمدستي شديد عکس العمل ايجاد کړ. فورا په کابل کې، د امريکا سفير کارل ايکينبېري هغه وغوښت او په سفارت کې يې د غټ مقام بلنه ورکړه، خو هو د هغه بلنه رده کړه. وروسته، د افغانستان او پاکستان لپاره د امريکا خاص استازی هولبروک وغوښت او پخپل دفتر کې يې د مقام بلنه ورکړه، خو ښاغلي هو وروسته له يوې اونی سوچ او سلامشورو څخه د هغه بلنه هم رده کړه. هولبروک ويلي وو که څه هم هغه د هو لدې نظر سره موافق ندی چې وايي د افغانستان جنگ ارزښت نلري، خو بياهم د هغه د تحليل له مهمو اړخونو سره اختلاف نلری. هو وايي په افغانستان کې د امريکا له اعلان سوي ماموريت سره بنيادي او اصولي تفاوتونه او مخالف نظر لري. هغه وايي گردسره ماموريت او اعلان سوی ستراتيژي بېکاره او تاواني ده.

ښاغلي هو د سي ان ان تيليويزيون ته ويلي وو چې زياتو امريکايانو او په تېره بيا ځنې شمير افغان امريکن ټولنو او اشخاصو دده ملاتړ کړی دی. هغه وايي د افغان امريکن غږو راته ليکي دي، «بلې هو، په افغانستان کې کورنی جنگ روان دی. ته پوهېږي چې د افغانستان ټولنه ټوکر ټوکر ده.» هو د افغانستان جنگ ته سيمه ايز او قومي


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېږلو مخکي په ځير و لولئ

رنګ ورکوي. په افغانستان کي د شمال او جنوب، قومي او فرقوي، ښاري او کليوالي تاوتريخوالي او تضاد ته زيات اهميت ورکوي.

هو وايي په عراق کي اقتصادی ، اجتماعي، دولتي زيربنا موجوده وه. عراق بشري پانګه او تحصيل يافته کدرونه درلودل. عراق ډاکټران، وکيلان، استادان، تيکنوکراتان، او معلمان درلودل. په عراق کي دولتي موسسات موجود ول. لنډه دا چي په عراق کي د يوه دولت دجوړولو اينفراسټرکچر موجود وو. خو افغانستان هيڅ نه لري.»

څرګنده ده چي ښاغلی هو به په راتلونکو ورځو، مياشتو، او حتی ښايي کلونو کي په امريکايي مطبوعاتوکي مطرح کس وي. ضرور به په راتلونو وختونو کي د هغه له نظرياتو سره نور هم اشنا سو، خو يوه خبره اوس لا روښانه ده او هغه دا چي سړی ډېر جدي او ويښ ښکاري. هو به د هغو امريکايانو پله لا درنه کړي چي په افغانستان کي د کمي مداخلي، لږو عسکرو، او باالاخره راوتلود مفکورې پلوي کوي.

دونه بايد زياته کړم چي د ښاغلي هو ځيني ټکي ډېر پر ځای او واقعي دي، خو ځيني نور يي کمزوري دي. لمړی، په افغانستان کي يوازي د غرب او امريکا شتون مقاومت او مخالفت ندی راپاروي، بلکي امريکاهم د خپلو وعدو په پوره کولو کي تر شا راغله. هغه دا چي په تېرو اتو کلونو کي موثر او پاک حکومت جوړ نه سو. بنيادي اقتصادي پرمختګ تر لاسه نه سو. بېکاري نه ورکه او نه هم محسوسه کمه سوه. نوي کارونه خلق نه سول، خو د بېکارانو لښکري لا ډېري سوې. افغاني ځوانان په اروپا او اسيا کي د مهاجرو په کمپونو او خطرناکه لارو باندي د يو نامعلوم برخليک په تاوو کي راګير دي.

بلخوا، امنيت ټينګ نه سو. جنګونه ختم نه سول. مليشياوي بې وسلي نه سوې. بياودانول يوه بده کاميډي او ټوکه سوه. لاري، سړکان، مکتوبونه، پلونه او بندونه جوړ نه سول، او داسي نوري ډېري تشي او وچي ژمني.

البته، په مقابل کي د غرب په مستقيمه مرسته يو فاسد او شډل حکومت ټينګ سو. بمباری او مرګ ژوبله زياته سوه. انتخابات او ديموکراتيکه پروسه بې عزته او سپکه سوه. اداري فساد او رشوت ډېر سو. او باالاخره، د دولت او حکومت د جوړولو لپاره هيڅ ډول بنيادي کار و نه سو. او نتيجه يي همدا اوسنی سياسي او نظامي بحران دی چي حلول يي کوه قاف ته ختل ښکاري. والسلام.

نوټ: پدې ليکنه کي د واشنګټن پوسټ اکتوبر ۲۷؛ سي ان ان اکتوبر ۳۱؛ او نېشن اکتوبر ۲۸ له ګنو څخه استفاده سوېده.


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ